د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
د مهاجرینو او راستنیدونکو چــــارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعات آمریت

خلورمه ګڼه (غویي) ۱۴۰۳ : شماره چهارم (ثور) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول



# عودت راستنیدنه اونۍ هفته نامه

**دغه څوکۍ یو لوی مسؤولیت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې یو خدمتګار دی.**

## د وزارت سرپرست د ترکیې له یوه سوداګر او په هغه هېواد کې د مېشتو افغان مهاجرینو له استازي سره ولیدل



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په ترکیه کې د افغان مهاجرینو له استازي عزت الله سادات او د یاد هېواد یو تن سوداګر فتح سره د خپل کار په دفتر کې ولیدل.

ښاغلي حقاني دوی ته له ښه راغلاست وروسته وویل: زموږ هېواد په وروستیو کلونو کې له ډېرو ستونزو سره مخ شوی دی او د اسلامي امارت په راتګ سره موږ ته زمینه برابره شوه، چې د پراختیا او پرمختګ پر لور ګامونه واخلو او موږ په خپل هېواد کې د پانګوالو ملاتړي یو چې همدلته پانګونه وکړي.

ښاغلي سادات په ټول هېواد کې د خوندي چاپېریال له رامنځته کېدو خوښي څرګنده کړه او په ترکیه کې د مېشتو افغان مهاجرینو ستونزې یې له سرپرست وزیر سره شریکې کړې.

د سرپرست وزیر ښاغلي حقاني له لوري ښاغلي سادات ته په راتلونکي کې ستونزو ته د رسېدنې په موخه ډاډ ورکړل شو

### سرپرست وزارت، با آمر سرحدی تورخم ملاقات نمود

الحاج خلیل الرحمن حقانی، سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با آقای بخت جمال گوهر، آمر سرحدی تورخم ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت ننگرهار، ملاقات کرد.

در این ملاقات آمر سرحدی تورخم مشکلات مهاجرین را درآن سرحد با محترم حقانی شریک ساخت.

سرپرست وزارت، در این ملاقات از وی بخاطر ارایه خدمات و همکاری به مهاجرین سپاسگذاری نموده و بر حل مشکلات به آقای گوهر اطمینان داده بر شفافیت، سرعت و هماهنگی بیشتر تاکید ورزید.

### د مهاجرینو چارو په وزارت کې د همکارۍ دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د ارمنو افغانانو د روښانه راتلونکي او د ټولنې لپاره د ځوانانو موسسو ترمنځ د همکارۍ دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د دې هوکړه لیکونو پر بنسټ د ارمنو افغانانو لپاره د روښانه راتلونکي موسسه د ٤٥زره امریکایي ډالرو په لګښت په ننګرهار ولایت کې ۵۰ کورنیو ته د خیاطۍ او ګلدوزۍ اړوند د حرفوي زده کړو په برابرولو کې مرسته کوي.

او د ټولنې لپاره د ځوانانو موسسه د لس زره امریکایي ډالرو په لګښت د شپږ دوله خوراکي توکو د وېش لړۍ پیلوي، چې په ننګرهار ولایت کې به ۵۰ کورنۍ ترې ګټه واخلي.

دا هوکړه لیکونه د دغه وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یادو دوو بنسټونو د استازو له خوا لاسلیک شول.

### نشست مشترک وزارت امور مهاجرین، با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهند گان بر گزار شد

نشست مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان با حضور معاون آن کمیشنری و هیات همراه با وی، بر ریاست الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت برگزار شد.

در این نشست مشترک در رابطه به تشریح پلان سال روان میلادی، هماهنگی و همکاری میان وزارت و آن کمیشنری گفتگو صورت گرفت.

معین مسلکی وزارت گفت: با هماهنگی ، یک دیگر در حل مشکلات و رسیده گی به آن یکجا کار خواهیم نمود.

آقای راشد بر افزایش کمک های آن کمیشنری تاکید بیشتر نمود.

خانم والری سوبو دووا، معاون امور حقوق آن کمیشنری از همکاری و هماهنگی وزارت با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ستایش نموده بر حمایت آن سازمان در عرصه های مختلف در آینده در تشریک مساعی با شرکای خویش اطمینان داد.









اونیز راستنیدنه
هفته نامه عودت

ایران څخه تر دولسو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

## نشست مجازی( انلاین) وزارت، با موسسه تحقیقاتی و انکشافی ابن سینا برگزارشد

نشست مجازی( آنلاین) وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با موسسه تحقیقاتی و انکشافی ابن سینا برگزارشد.
هدف از برگزاری این نشست مجازی ایجاد تیم کاری جهت طرح زمینه های اشتغال از طریق مهاجرت های منظم و هماهنگی و تطبیق برنامه ها وزارت با نهاد یاد شده بود.
الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت گفت : بیشترین مهاجرین را در سطح جهان افغان ها تشکیل میدهند امارت اسلامی و وزارت امور مهاجرین تلاش مینماید تا برای مردم افغانستان به خصوص مهاجرین افغان راه های بیشتری را در جهت حل مشکلات آنان فراهم سازد.
وی افزود، افغانستان چهار دهه جنگ را سپری نموده است و امارت اسلامی در صدد تقویت و ارتباط خوب و بهتر با تمام کشور ها و موسسات میباشد.
آقای روفی نماینده موسسه تحقیقاتی و انکشافی ابن سینا اهداف آن موسسه را تشریح نموده از وزارت امور مهاجرین و امارت اسلامی خواستار همکاری های بیشتر در زمینه بازسازی و فراهم سازی اشتغال برای مهاجرین شد.
وی بر همکاری وزارت با آن نهاد در جهت فراهم سازی زمینه های کاری برای افغان ها در بیرون از کشور تاکید نمود.



## ایران څخه تر دولسو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

په ایران کې مېشت ۱۲۶۶۱ تنه افغان مهاجرین د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.
د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمر د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۱۹۱۸ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.
دغه راز ٤٦٤ کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۱٤۰ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول، ۱۰۲۰ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمپنو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه ووېشل شول او ۱٤٦٣ تنه نور له روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شول.

## پنج هزارو٦٨٥ تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

٥٦٨٥ تن مهاجر افغان از خط فرضی تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.
به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ٦١٦ خانواده شامل ۳۱۸۳ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت در آن آمریت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از طرف امارت اسلامی نیز پرداخت شده است.
به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ٤٧٢ خانواده که شامل ٢٤٢٨ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت درادراه امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## ننګرهار مرستیال والي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د استازي له مرستیال سره وکتل

د ننګرهار ولایت مرستیال مولوي سعید احمد بنوري د دغه ولایت د یو شمېر سیمه ییزو چارواکو په شتون کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د استازي معاون آغلي اندریکا رتواتي سره په عمري کمپ کې و لیدل.
په دې کتنه کې چې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ رئیسانو، د مهاجرت د نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو استازو په کې ګډون درلود، له راستنېدونکو کورنیو سره د سرپناه، کارموندنې، بشري مرستو، تعلیم، روغتیا او نورو اړینو برخو کې د مرستې په اړه خبرې وشوې.
مرستیال والي له راستنېدونکو سره د ملګرو ملتونو سازمان له مرستو مننه وکړه او د زیاتوالي غوښتنه یې وکړه، نوموړي دغه راز له پاکستان څخه د بې ځایه شویو کورنیو سره د مرستې او خپلو اصلي ځایونو ته د داخلي بې ځایه شویو کورنیو په لېږدولو کې د همکارۍ غوښتنه هم وکړه.
د دغه ولایت د مهاجرینو چارو رئیس باز محمد عبدالرحمن نوموړي ته د خوراکي توکو د مرستو، سرپناه، کوچینۍ سوداګرۍ، پوهنې، روغتیا، کرنې او د زیربنایي چارو په اړه وړاندیزونه وړاندې کړل.
ښاغلي اندریکا راتوتي د ننګرهار ولایت له مشرتابه او مسؤلینو څخه د راستنېدونکو د ښه مدیریت او له مرستندویه ادارو سره د دوی د همکارۍ له امله قدرداني وکړه.
هغه وویل: «افغانان موږ ته ډېر ګران دي، خو د حالاتو له امله اوس ځینو نورو هېوادونو ته پاملرنه شوې ده.» خو زه به هڅه وکړم چې افغانستان ته زیاته پاملرنه وکړم.
هغه زیاته کړه، د افغان کډوالو د پاتې کېدو د مودې د غځولو او د هغوی د حقونو د خوندیتوب په موخه مې له پاکستاني چارواکو سره خبرې کړې دي او هڅه به وکړم چې پاکستاني چارواکي قانع کړم چې د اجباري اخراج بهیر کم کړي.
اندریکا رتواتی ډاډ څرګند کړ چې د راستنېدونکو کورنیو سره به په ټولو برخو کې په اساسي او اوږد مهاله توګه پاملرنه وکړي او د راستنېدو د بهیر د ښه والي په موخه به افغانستان ته خپل سفرونه او پاملرنه زیاته کړي.
نوموړي دغه راز په تورخم کې د مهاجرینو چارو ریاست څخه هم لیدنه وکړه او د راستنېدونکو ستونزې یې له نږدې واوریدې او د یاد سازمان کاري بهیر او کړنې یې و ارزولې.



## بیش از ۲۰۰ تن عودت کننده، در ولایت کندز در پروسه امتحان رقابتی اشتراک نمودند

به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت کندز، ۲۳۴ تن عودت کننده از طبقه اناث درامتحان رقابتی برای جذب دوره سه ساله قابلگی در ولایت کندز که با همکاری ریاست های مهاجرین و صحت عامه برگزار شده بود به تاریخ ۱۱ ثور اشتراک نمودند.
از میان افراد یاد شده ۸۰ تن که نمرات بلند را کسب نمایند به همکاری کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، برای جذب دوره سه ساله قابلگی با هماهنگی ریاست صحت عامه آن ولایت به انستیتوت حکمت معرفی خواهند شد و برای هر محصل تسهیلات چون پرداخت فیس، مصارف کتاب، قرطاسیه و کرایه ترانسپورت از جانب آن کمیشنری پرداخت میگردد.





اوونیز راستنیدنه
عودت هفته نامه

کمزوري بايد پر ځواکمنتيا بدلې شي

## سیلاب خساراتی به باشنده گان شهرک مهاجرین استاد خلیل الله خلیلی برجا گذاشت

به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت کابل، سیلاب های روز گذشته در شهرک مهاجرین استاد خلیل الله خلیلی، خساراتی را به باشنده گان آن شهرک برجا گذاشت.

مولوی عبدالرحمن حبیب زی، رییس مهاجرین ولایت کابل به اساس هدایت مقام رهبری وزارت همراه با هیاتی متشکل از ادارات حوادث طبیعی، انکشاف دهات، سره میاشت، معاون ولسوالی قره باغ وشماری دیگر از نماینده ها از ساحات شهرک یاد شده واقع باریک آب ولسوالی قره باغ که به اثر سرازیر شدن سیلاب خساره دیده بود، بازید نمودند.

از اثر این سیلاب به تعداد چهار باب منزل در آن شهرک تخریب شده است که برای هر خانواده متضرر پنج تخته کمپل از جانب هیات اعزامی توزیع شد.

هیات یاد شده پنج محل را که منشأ خطر جدی برای باشندگان شهرک میباشد، از نزدیک بازدید و بررسی نمودند و برای اعمار دیوار های کانال جلوگیری از خطر سیلاب ها، توافق نمودند تا هرچه عاجل تیم های تخنیکی و مسلکی مشترک توظیف و ساحات مورد نظر را سروی و برای پیشگیری از خطرات بعدی باشندگان شهرک، برنامه های بنیادی دیزاین صورت گیرد.

قرار است که به زودی کمک های بشری به باشنده گان آن شهرک صورت گیرد.



## غور ولایت کې د بیا مېشتېدنې کمېټې ناسته وشوه

له ایران او پاکستان څخه د بیا راستنېدنې او میشتېدنې کمیټې ناسته د غور ولایت د مرستیال او سرپرست مولوي روح الله طریقت په مشرۍ جوړه شوه.

دغه ناسته د یاد ولایت د سیمه ییزو مسولینو په ګډون ترسره شوه او د اسلامي امارت د رهبرۍ له حکم سره سم په جبري راستنو شویو مهاجرینو د نغدي مرستې د وېش د څرنګوالي په اړه بحث وشو او لازم تصمیمونه ونیول شول.

## ۱۵ ولایتونو کې له څه باندې ٦ زره کورنیو سره مرسته وشوه

د تېرې اونۍ په اوږدو کې کندهار، ننګرهار، هرات، بامیان، وردګو، غزني، بدخشان، فاریاب، بلخ، سرپل، کابل، کاپیسا، غور، پکتیکا او کندز ولایتونو کې له ٦ زره ۲۷۵ بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو سره د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو له لوري مرسته وشوه.

یادو شویو کورنیو ته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ادارو د یو شمېر نړیوالو مرستندویه موسسو په همکارۍ د خوراکي توکو، جامو او نغدي مرستې ووېشل شوې



## ۲۲ تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس ازاد شدند

۲۲ تن از افغانهای محبوس از محابس کشور پاکستان، از قید آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار افراد یادشده به دلیل نداشتن اسناد قانونی مدت ۱۹ الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از رهایی از طریق خط فرضی تورخم به وطن عودت و غرض کمک به سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.



## د پلان او پالیسۍ رئیس: کمزورۍ باید پر ځواکمنتیا بدلې شي

دا خبره د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د پالیسۍ او پلان رئیس مولوي محمودالحق احدي د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د سرپنا کلستر له همغږۍ کوونکې سره په ناسته کې وکړه.

په دې ناسته کې د راستنو شویو او داخلي بې ځایه شویو لپاره د سرپناوو پر جوړولو خبرې وشوې.کمزورۍ باید پر ځواکمنتیا بدلې شي

ښاغلي احدي وویل: موږ هڅه کوو چې د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره خپله همکاري او همغږي زیاته کړو او له بنسټونو سره په ګډه هڅو خپلو هېوادوالو ته د خدمتونو د وړاندې کولو اړتیا په پام کې ونیسو.

هغه زیاته کړه، غوره ده چې د ستونزو د حل لپاره په ګډه کار وکړو او ناستې باید په داسې ډول ترسره شي، چې شته اداري کمزورۍ پر ځواکمنتیا بدلې کړي.

د سرپنا د کلستر د همغږۍ مشرې اغلې ایرین موتیوو وویل: زموږ له کاري لومړیتوبونو څخه یو د اړمنو او مستحقو کورنیو انتخاب دی، چې د دوی د اړتیاوو پر بنسټ په روان کال کې ۳ میلیونه ډالره مرسته د سرپناوو د جوړولو په پار ځانګړې شوې ده.

د نومورې په وینا د دې ادارې له کاري موخو څخه یوه یې له مهاجرینو وزارت سره همکاري او همغږي ده او د ستونزو د حل، اسانتیاوو رامنځته کولو او د کار د ښه والي په موخه یې د دواړو ادارو ترمنځ پر ګډو هڅو ټینګار وکړ.



## بسته های کمکی وزارت امورمهاجرین به ولایت بغلان ارسال شد

حسب هدایت مقام رهبری وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، یک عراده موتر حاوی بسته های کمکی برای سیلاب زده گان ولایت بغلان ارسال گردید.

این کمک های که شامل بسته های ، پوشاک ، خیمه و ترپال بوده ، جهت رسیده گی عاجل به آسیب دیده گان ناشی از سیلاب ها به آن ولایت ارسال شده است.

گفتنی است با توجه به گستردگی تلفات و خسارات این حوادث، شمار زیادی از هموطنان ما در ولایت بغلان و دیگر ولایت های سیل زده از جمله بدخشان، تخار، هرات و غور به کمک های بشری عاجل ضرورت دارند این وزارت می خواهد که هرچه زودتر در قسمت ارایه کمک‌های بشری با هماهنگی ریاست های مهاجرین ولایات یاد شده و در تشریک مساعی با همکاران ملی و بین المللی به محلات متذکره اقدام کند.

